په دوزخيانو کې تر ټولو کم عذاب لرونکی به هغه څوک وي د چا چې به د اور تسمې لرونکې څپلۍ پښو وي، (د ډېرې تودوخې له امله به يې) ماغزه داسې خوټيږي لکه څنګه چې اوسپنيز ديګی خوټيږي، دی به له ځان څخه هېڅوک د سخت عذاب ليدونکی نه ګوري، حال دا چې دی به تر ټولو د لږ عذاب خاوند وي

له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «په دوزخيانو کې تر ټولو کم عذاب لرونکی به هغه څوک وي د چا چې به د اور تسمې لرونکې څپلۍ پښو وي، (د ډېرې تودوخې له امله به يې) ماغزه داسې خوټيږي لکه څنګه چې اوسپنيز ديګی خوټيږي، دی به له ځان څخه هېڅوک د سخت عذاب ليدونکی نه ګوري، حال دا چې دی به تر ټولو د لږ عذاب خاوند وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د قيامت په ورځ به تر ټولو د لږ عذاب خاوند هغه څوک وي چې تسمې لرونکې د اور څپلۍ به يې په پښو وي او له ډېرې تودوخې به يې ماغزه داسې خوټيږي لکه د مسو کټول، او دی به له ځان پرته بل هېڅوک د سخت عذاب والا نه وينې، په داسې حال کې چې دی به تر ټولو د لږ عذاب خاوند وي، دا عذاب د دې لپاره ورکول کېږي چې روح او بدن يې دواړه عذاب ووينې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4220